د ستراوځواکمن څښتن تعالی په سپیڅلي نامه

Logar

# لوګر

میاشتنۍ خپرونه

د تا سیس کال: ۱۳۸۳ هـ.ل

دلوګر اطلاعاتو اوفرهنګ ریاست میاشتنۍ سیاسي، علمي، ټولنیزه، دیني او فرهنګي خپرونه

پنجشنبه د۱۳۹۷ کال دمرغومي د میاشتې شپږمه، د ۲۰۱۸ عیسوي کال د ډسمبراوویشتمه | ۱ | پرله پسې ګڼه (۹۹) لومړی کال، اتمه ګڼه

الله (ج) فرمایلي، ژباړه : کوم خلک چې له الله او دهغه له پیغمبر سره جنګیږي او په ځمکه کې ددې لپاره منډې تړړې کوي، چې فساد راولاړ کړي، نو دهغو سزا داده، چې ووژل شي یا په دار وځړول شي، یا یې لاسونه او پښې ردو بدل غوڅ کړای شي، یا له وطنه وشړل شي، دا ذلت او سپکاوی خو دهغو لپاره په دنیا کې دی او په آخرت کې دهغو لپاره له دې څخه لویه سزا ده.

(دالمائد سورت ۳۳ آیت)

سرلیکنه ...

## دمرغومې شپږمه؛ په هېواد کې د بدمرغیو پیلامه

د مرغومي شپږمه؛ هغه نه هیریدونکې ورځ چې افغانستان باندې سرو پوځې لښکرو دځمکې او هوا له لارې یرغل راوړل. دا ورځ په تاریخ کې هغه ورځ ده، چې پیلامه یې دهیواد په ټولوسیمو کې دبدبختیو، ویجاړیو او وژنو سرچینه ګڼل کیږي .

دمرغومي یا جدي شپږمه د۱۳۵۸ هجري لمریزکال روسي یرغلګرو په درندونظامي تجهیزاتوباندې سمبال افغانستان ته رانوتل او د لسو کلونو په اوږدو کې دمجاهدینو د جهاد سره مخ شول. روسي یرغلګرو دهیواد دویجاړیو، دمیلیونونوافغانانودشهادت، معلولیت اوبهرنیوهیوادونوته دافغانانو کډه کیدل دا هغه څه ؤ، چې روسانو خپل مردارو موخو ته ورسیدل، خودبریا پایله دافغانانو په برخه او شوروي یرغلګرله کلکې ماتې سره مخ شول.

دمرغومي شپږمه؛ دافغانستان پرخاوره دشوروي سرو پوځ ستره تیروتنه په مادي اوهم په معنوي توګه وه، خو دواړه هیوادونه یې وځپل اوګڼې ستونزې اوناخوالې یې رامنځته کړې.

سرو پوځې لښکرودخپلولاسپوڅو د لاربښوونو په اساس غوښتل، چې افغانستان ترخپلې ولکې لاندې کړي او تودو اوبو ته ځان ورسوي،خوددوی دغه موخه په دې لامل ناکامه او شنډه شوه، چې دخپل ښکارلپاره یې دګیدړې پرځای زمری غوره کړی ؤ.

افغانانو د روسي یرغلګروپه وړاندې دجهادجنډه پورته کړه اونه سترې کیدونکې سرښندنې له ځانه پریښودلې، دوی د ډیرو مبارزو او دخپل هیواد دساتلو په موخه دوه میلیونوڅخه زیات افغانان شهیدان او همدارنګه زموږ په لکونو هیوادوالوخپل دبدن غړي د جهاد او سرښندنې او د شوروي یرغلګرو دتیري او ظلمونو له امله له لاسه ورکړل.

د افغانانو دجهاد پایله او ثمره دا شوه، چې شوروي سرو پوځیانو سره د زیاتو مبارزو او سرښندنو سپیڅلي بیرغ دهیواد په ګوټ ګوټ کې ورپول شو او شوروي عسکرو په ۱۳۶۷ هجري لمریز کال دسلواغې په ۲۶مه له تاریخي اوشرمیندونکي ماتې سره مخ شول، چې بلآخره ددې شرمندلي ماتې له امله دپخواني شوروي یوالي دړې وړې شواو هغه هیوادونه چې شوروي لاندې کړي ؤ هم آزاداوله شورویانو څخه آزادي خپله کړه.

زموږ تاریخ ښودلې، چې افغانان دنړۍ هیوادونوپه وړاندې دښې رویې او علاقمندی په اساس او په ځانګړې توګه د ګاونډ هیوادونو سره دښه روابطو په ساتلو کې ژمن پاتې شوي، خو ګاونډ او نورهیوادونه دې په دې فکر کې نه اوسي، چې ګوندې افغانستان کې هر کار د دوی په توان پوره وي هغه ترسره یې کړي. ولې داچې افغانستان په یو مهم او اساس پړاو کې قرار لري، نو ځیني هیوادونه چې په ښکاره او یا په پټه توګه دهیواد په کورنۍ چارو کې مداخله کوي، دافغانانو دچپتیا،دښه سلوک او ښه چلند نه نباید ناوړه ګټه پورته کړي، بلکې دنړۍ سترځواکو هیوادونو ته؛ چې افغانانو غاښ ماتوونکي ځواب ورکړې د عبرت درس دې واخلي.

میړنیو افغانانو دخپلې پاکې خاورې دساتنې، داسلامي اوملي ارزښتونو، ملي شتمنیواوناموس څخه د دفاع په خاطر دیرغلګروپه وړاندې سرښندنې کړي او په کرار ندي ناست.

دوی دخپلونیکونواوپلرونوپه پل قدم ایښي،دبهرنیو هیوادونو هر ډول ناوړو کړنو ته چې په افغانستان کې ترسره کوي، یو ورځ به یې پوښتنه ورځیني وکړي، ځکه د میړنو خاصه داده، چې له صبر نه کار اخلي.

زموږ ولس د متجاوزینواویرغلګروپه وړاندې خپل فرضي مسولیت اداء کړی دی، څنګه چې زموږ نیکونودنړۍ استکباري سترقوت انګلیس ته ماتې ورکړه، نوپلرونو مو دویم سترطاقت روس یې له پښو وغورځول، چې تراوسه یې په ناتاریو کینولي دي او اوسمهال ځوانان مو دهیواد د رغوونې په موخه متې بیډ وهلي ترڅو خپل کړیدلي ولس ته خدمت وکړي او څوک پرې نږدي، چې هیواد مو په کنډوالو بدل کړي.

نوپه پای کې دافغانانودلابریالیتوب هیله اودافغانستان سمسورتیا اوجوړونه دهمدغونګیالیوبچیانوپر مټ غوښتونکې یو!

ترپیا دخدای پامان

مدیر

## دجمهوري ریاست څخه راغلي پلاوي؛ دلوګر دولسونو ستونزې واوریدې



دلیندۍ دولسمه: دولسمشر دحکم په اساس یو پلاوي چې مشري یې رضوان الله احمدزي کوله، لوګرولایت ته دلیندۍ په دولسمه سفر وکړ او دلوګرولایت دخلکو ستونزې له نږدې واوریدې.

په دغه سفر کې د ولسمشر سلاکارانو رضوان الله احمدزي، محمدنبي مصداق، عالم ګل کوچي او محمد ابراهیم مشفق په لومړیو کې د لوګر له والي الحاج محمد انورخان اسحاقزي سره وکتل. ورپسې دوی ددغه ولایت له قومي مشرانو ،دیني عالمانو ، د ادارو رییسانو ، مېرمنو ، ځوانانو او ژورنالیستانو سره جلاجلا وکتل.

دوی دولایت په کچه له مسوولانو څخه ستونزې اووړاندیزونه واوریدل اوژمنه یې وکړه چې یادې ستونزې جمهور رییس ته به ورسوي، چې په حلولو کې یې عملي ګامونه واخستل شي.

لوګر د رسنیو مرکز

## از رهبری ملکی و نظامی لوگر تقدیر شد

ولسی جرگه کشور ازکارکردهای رهبری ملکی ونظامی ولایت لوگر بااهدای تقدیرنامه ها تمجید نمود.



محفل که به همین مناسبت بااشتراک الحاج محمدانور خان اسحاقزی والی لوگر،داکتر شکیلا هاشمی عضو ولسی جرگه ،حسیب الله ستانکزی رئیس شورای ولایتی،رهبری ارگانهای امنیتی،روسای ادارات دولتی،بزرگان قومی وافسران نظامی در تالار جلسات مقام ولایت تدویر یافته بود نخست داکترشکیلا هاشمی عضو ولسی جرگه کشور صحبت نموده گفت:رهبری ملکی ونظامی ولایت لوگر در جریان انتخابات ولسی جرگه توانستند که با مدیریت خوب امنیت درست را برای مردم تامین نمایند. وی علاوه کرد که ولسی جرگه کشور این موفقیت نیروهای امنیتی لوگر را با اهداء تقدیرنامه به دیده قدرنگریسته از آنان حمایت نمود.

بعداً الحاج محمدانورخان اسحاقزی والی لوگر در سخنانش گفت:همه ما بالای نیروهای امنیتی خویش افتخار میکنیم چون نه تنها از یک طرف امنیت مطمین را برای رای دهنده گان تامین نموده بودند بلکه دستآورد های خوبی نیز دارند. والی لوگر علاوه نمود ، همانطور که بخاطر انتخابات همه ما سعی وتلاش نمودیم باید بخاطر تامین صلح دایمی در کشور نیز دست بدست هم داده تا این آرمان دیرینه مردم را برآورده نماییم.

در اخیر محفل تقدیرنامه های ولسی جرگه توسط داکتر شکیلا هاشمی عضو آن مجلس برای والی لوگر،رهبری وافسران نیروهای امنیتی این ولایت اهدا شد.

**محمدموسی »عدیل«**

## کمیته مصئونیت خبرنگاران تدویر جلسه نمود

کمیته مصئونیت خبرنگاران در ولایت لوگر به تاریخ 20 قوس تحت ریاست الحاج محمد انور خان اسحاق زی والی لوگر تدویر جلسه نمود و والی لوگر در راستای حل مشکلات ژورنالیستان این ولایت وعده همکاری همه جانبه کرد.

دراین جلسه محمد شفیق پوپل رئیس اطلاعات وفرهنگ ،احمد شاه مسئول ولایتی حمایت مردمی ،مسئولین رسانه ها وژورنالیستان اشتراک ورزیده بودند.

جلسه با تلاوت آیات چند ازکلام الله مجید آغازشد ، سپس روی موضوعات جلسه قبلی و اجندای جلسه توسط امین الله صفا آمر اطلاعات معلومات همه جانبه به اشتراک کننده گان ارایه گردید متعاقباً نورالله ستانکزی ریس انجمن ژورنالیستان آزاد لوگر روی مشکلات ژورنالیستان در بخش مشکلات اقتصادی رسانه ها ،عدم همکاری مسئولین با خبرنگاران و موضوعات مصئونیت خبرنگاران صحبت های همه جانبه نموده از مقامات محلی خواست تا در مورد حل مشکلات توجه جدی نمایند.

خان ولی احمدزی مسئول کمیته مصئونیت خبرنگاران در لوگر نیز در سخنانش به مشکلات اقتصادی رسانهای لوگر اشاره نمود وافزود که کمیته مصئونیت خبرنگاران همواره در حل مشکلات خبرنگاران ومصئونیت آنها توجه نموده است.



درکنار شش رسانه صوتی ودو رسانه چاپی که اکنون در لوگر فعالیت میکند تاحدی به شکل بهتر برای مردم اطلاع رسانی صورت گرفته است اما مشکلات اقتصادی رسانه ها تا حدی فعالیت رسانه ها را دراین ولایت به کندی مواجه کرده است.

محمد انورخان اسحاق زی والی لوگر دراخیر جلسه وعده سپرد که در حل مشکلات خبرنگاران لوگر تلاش خواهد نمود ،آقای اسحاق زی برای مصئونیت بهترخبرنگاران وعده توزیع یک یک نمره زمین را نیز به ژورنالیستان داد.

**محمد زاهد (سلطانی)**

اهمیت راه لاجورد درعرصه تجارت در صفحه ۲

سوله زما او د ټولو افغانانو هیله ده ۳ مخ

**ژبه دهرملت ډیرارزښتمن میراث دی؛ چې دیوه ښکلي، نازک اوپیچلي هنري اثرپه شان همیشنۍ پاملرنې ته اړتیالري!**

This document was created with Win2PDF available at http://www.daneprairie.com.
The unregistered version of Win2PDF is for evaluation or non-commercial use only.